د لوړو زدکړو وزارت

د ننګرهار پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځی

د لیسانس دورې پایلیک

# په خوګیانو ولسوالی کې دوینې دګروپونو پیژندل

ترتیب کوونکی: سیدحبیب حبیب زی

لارښود استاد: پوهنوال محمد ناصر همدرد

څانګه: بیولوژي

Ketabton.com

ښوونیز کال ۱۳۹۷ هجری لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحيم


(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

دويني دګروپونو مطالعه دويني دانتقال په خدماتو کي، ديوي سيمي دخلکو وراثتي مطالعي او د Erythrobalastosis fetalis دمخنيوي لپاره ډېر مهم دي. دغه څېړنيزه موضوع چي په مجموعي ډول (581) افرادو دويني ګروپونه معلوم شوي دي چي په 202 افرادو نارينه او 379 افرادو ښځينه وو دويني ګروپونه معلوم شوي دي. چي ښځينه دويني ګروپونو زياتوالي داميد واره مېرمنو دويني د ګروپ معلومولو پوري اړه لري. چي په ياد کلينيک کي دماشوم جنيني ژوند خارني لپاره هره اميدواره مېرمني دويني ګروپ بايد معلوم وي په دي اساس دثبت له مخي دمېرمنو دويني ګروپونه نسبت نارينه وو ته زيات معلوم شوي دي .

چي دويني ګروپونو ارقام او سلنه په عمومي ډول دلاندي جدول سره سم په لاس راغلي دي..

(الف)جدول:دا جدول په عمومي ډول دخوګيانو ولسوالي دويني ګروپونه په ډاګه کوي.




| | A | B | 0 | AB | RhD(+) | RhD(-) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Percentage | 27.7108434 | 30.636833 | 32.3580034 | 9.29432014 | 90.1893287 | 9.81067126 |
| TOTAL | 161 | 178 | 188 | 54 | 524 | 57 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دپیل خبري

څرنگه چې دلوړو زده کړو وزارت دمقرراتو او لايحې مطابق هرمحصل ته دخپلې تحصيلي دورې دبشپړولو لپاره دلسانس دورې دډيپلوم دترلاسه کولو په خاطر تر څو دامتيازاتو څخه يې برخمن شي داړوند ډيپارټمنټ له خوا دپايليک (مونوگراف) ليکلو دنده سپارل کيږي.دهمدې موخې دلاسته راوړلو لپاره ما ته هم دننگرهار پوهنتون دښوونې او روزنې پوهنځی دبيولوژي څانگې له خوا يوه څېړنيزه موضوع (په خوگيانو ولسوالۍ کې دوينې گروپونو پيژندل)تر سرليک لاندې دقدرمن استادپوهنوال محمد ناصر همدرد تر لارښوونې لاندې راکړل شوې ده.

دلارښود استاد دلارښوونې سره سم مې دپادپايليک مطالب دسيمه يېزو فعاليتونو او دنړۍ دغوره څېړنيزو پانو اوغوره منابعو څخه راټول کړي دي چې دلارښود استاد داصلاح او تائيد څخه وروسته دچاپ په گانه سمبال کړي دي .

زه ددې پايليک په تهيه اوترتيب کولو کې دبيولوژي څانگې دټولو زړه ته رانږدې کادري غړو څخه په ځانگړې توگه له لارښوداستاد محترم پوهنوال محمد ناصر همدرد څخه دزړه له کومې مننه کوم چې داستادۍ ترڅنگ دډيپارټمنټ آمريت دسترمسؤليت سره سره يې له ماسره دموضوع اړوند هراړخيزه مرسته کړې ده دالله ج له دربار څخه ورته دبرکتناکه ژوند او اجر عظيم غوښتونکی يم .

په پای کې غواړم له ټولوهغو دوستانو مننه وکړم چې زما سره يې ددې موضوع په ترتيب کولوکې مرسته کړې ده .

په درنښت

سيدحبيب حبيب زی

دبيولوژي څانگې محصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

وینه دمنضم نسج له جملې څخه ده چې دزړه دمنظمو تقلصاتو په واسطه په یو تړلې دوراني سیستم کې په یو طرفه ډول حرکت کوي. وینه دوه برخې لري لومړئ برخې ته پلازما وایې اودوهمه برخه یې جامده برخه ده حجرات پکې شامل دي چې حجرات یې هم په درې ډوله دي عبارت دي له سره حجرات ،سپین حجرات او دمویه صفاحات .

ویلیم هاروي (1578_1657) دلومړي ځل لپاره دوینې دوران کشف کړ او ویې ویل چې وینه له زړه څخه درګونو په واسطه ټول بدن ته رسول کیږي اودرګونوپه واسطه بیرته زړه ته راوړل کیږي (4:م5) .

په پخوانیو وختونو کې به له روغ شخص څخه وینه اخیستل کېده او پرته له تشخیص څخه به یې ناروغ شخص ته لیږدوله چې زیاتره مریضانو به خپل ژوند له لاسه ورکولو اوډیر کم به یې دصحت په جامو پټیدل ،بالاخره دامفکوره پېداشوه چې ولې دیوانسان وینه دبل انسان لپاره زهر جوړیږي اوژوند تري اخلې؟ددي مسئلې دحل لپاره Land Steiner دشپو اوورځود کوښښونو وروسته په (1900)میلادي کال کې د ABO سیستم له مخې دوینې ګروپ بندي کشف کړه او ډیر انتيجنونه یې هم کشف کړل او همدارنګه دوینز په نوم عالم د Rh فکتور د Rhesus په نامه شادي په وینه کې کشف کړه (1:م123) .

اړینه ده کله چې دیوانسان وینه بل انسان ته تطبیق کیږي باید ګروپونه یې سره ورته والی ولري او دغلطې وینې دتطبیق په صورت کې خپل ژوند له لاسه ورکوي (3:م97) .

په دي څېړنیزه موضوع کې ماهم دخوګیانیوپه ولسوالی کې دوینې ګروپونه څېړلي دي ،په دې هیله چې دټولنې خلکو ته یې خیر ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موخې

۱:لومړۍ موخه مې دهغه ذات رضایت دی چې ټول بشریت یې پیداکړی دی او دټول عالم واکدار دی .

۲:همدارنګه په خوګیانو ولسوالی کې دوینې ګروپونو فیصدي معلومول چې دکوم ګروپ وینه په زیاته اندازه پیداکېږي او دکوم ګروپ وینې پیداکول ستونزمن دي.

۳:خلکو ته مو دوینې دګروپونو معلومولو اهمیت تر څنګ مودرضاکارانه وینې ورکړې عامه پوهاوی کول دي،او هیره دي نه وي چې دواده څخه مخکې دوینې دګروپونو معلومولو اهمیت ټولنې ته په ډاګه کول تر څوټولنه مو له ځینو بدبختیو څخه وژغورل شي .

## پوښتنې

۱:په عمومي ډول په خوګیانو ولسوالی کې دکوم ګروپ وینه لرونکي اشخاص په زیاته اندازه پیداکېږي ؟

۲:په رضاکارانه توګه دوینې ورکول انسان ته څومره ارزښت لري؟

۳:که چیرته له واده څخه مخکې دوینې ګروپ معلوم نشي کومې ناوړې پایلې به له ځانه سره ولري؟

## ددې څېړنېزې موضوع ارزښت

وینه دژوند یوه بنسټیزه او حیاتي ماده ده چې دانسان په وجود کې مهمې فزیالوژیکې دندې سرته رسوي لکه دتنفسي ګازاتو انتقال،دغذایي موادوانتقال،دحرارت تنظیم،دوینې تحثر،دانتي باډي تولید،داوبو دموازنې تنظیم اوداسي نوري دي (3:م5) .

کله که دیوشخص دوینې په تولیدي سیستم کې څه ستونزه رامنځته شي او دوینې نویو حجراتو تولید له خنډ سره مخ شي اویا هم دکومې پېښې پراساس وینه ضایع کړي نو دوینې دکمبود په وخت کې ډاکتران لازمه ګڼي تر څوهغه شخص ته چې وینې ته اړتیا لري دبل شخص وینه تطبیق کړي .دوینې ورکول دژوند ژغورل دي ،دوینې انتقال لپاره دوینې دګروپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومول اړین دي ځکه چې دانسانانو وینه دګروپونوله مخې یوله بل څخه توپیر لري ،که چیرې دیوشخص وینه چې یودول ګروپ ولري،بل شخص ته چې دهغه دویني دګروپ سره توپیر ولري تطبیق شي نو ناروغ له ستونزو سره مخ کیږي او تر دې حده امکان شته چې له ژونده لاس په سر شي.

همدارنګه ډاکتران لازمه ګڼي چې دویني ګروپ بایدمخکی له واده معلوم شي ځکه که چیرې د Rh+ مثبت زلمی د Rh- منفی پیغلي سره واده وکړي نو ماشومان یې دشدیدې انیمیا سره مخامخ کیږي چې دمړینی سبب کیږي اویاهم Kernicterous او یا داسي نورو ناروغیو باندې اخته کیږي .نو له پورته مسایلوڅخه په ډاګه کیږي چې دویني دګروپ معلومول دهر فرد لپاره اړین دي .دویني دګروپونو مطالعه یوازې دا نه ده چې یوساده ډیټابیس یې رامنځته کړی دی بلکي دویني دګروپونو معلومول هر فرد ته دویني دسالم انتقال لپاره یوه ښه خبرتیا ده (20م:1).

مخکي له مخکي دویني دګروپونو معلومول په اضطراري حالتو کې زیاته مرسته کوي ،مثلا ک له چې عاجل وینې ته اړتیا شي که له مخکې دویني ګروپ معلوم وي نو سمدلاسه وینه تطبیقیږي او که چیرې دویني ګروپ له مخکې معلوم نه وي تر څو چې ناروغ ته دویني ګروپ معلوموي نوامکان لري خپل ژوند له لاسه ورکړي.او همدارنګه دامیدواره میرمنو دویني ګروپ هم بایدله مخکې معلوم وي که چیرې دمور اوماشوم دویني Rh ګروپ سره توپیر ولري نو لازمه ده چې له مخکې احتیاطي تدابیر ونیول شي تر څو ماشومان له هیمولایټیک انیمیا څخه وژغوري.

## مخکېنیو لیکنو ته کتنه

دویني دګروپونواړوند لومړنی مطالعه دنړیوالي جګړې په دوران کې د Ludwik Hirszfold اودهغه دمیرمنې Hanka له خوا په یوشمیر عساکرو باندې سرته رسیدلي وه ،دوی دې نتیجې ته رسیدلي وه چې دعسکرو دویني ګروپونه سره مختلف دي هغه عساکر چې د North Central Europe پورې تړاو لري په دوی کې د A ګروپ وینه عامه ده اوهغه عساکر چې د Eastern Europe پورې اړه لري په دوی کې د B ګروپ وینه په زیاته اندازه پیداکیږي (15م:12).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ABO سېستم او د Rh فکتور له مخې دوینې ګروپونه دنړۍ په مختلفو ځایونو کې په مختلفو اندازو سره موجود دي چې په لاندې ډول یې ذکر کوو.

دبرېتانیا په خلکوکې ABO او Rh فکتورله مخې د A ګروپ وینه ( 42 )سلنه ،B ګروپ وینه اته سلنه ،O ګروپ وینه ( 47) سلنه ،AB ګروپ وینه درې سلنه، Rh Positive مثبت ګروپ وینه 83 سلنه او Rh Negative منفي وینه ( 17 )سلنه موجوده ده.

د United States په Cuscasians خلکو کې A ګروپ وینه ( 41 )سلنه ،B ګروپ وینه ( 9 )سلنه ، O ګروپ وینه ( 46 )سلنه AB، ګروپ وینه څلور سلنه ، Rh Positive اړایچ مثبت وینه ( 85 )سلنه او همدارنګه Rh Negative وینه ( 15 )سلنه موجوده ده (10:م988-990) .

په مالیزیا کې د A ګروپ وینه ( 24.9) سلنه ،B ګروپ وینه ( 30.2 )سلنه ،O ګروپ وینه ( 38.3 )سلنه،AB ګروپ وینه ( 2.8 )سلنه ، Rh Positive ار ایچ مثبت وینه ( 98.4 )سلنه او Rh Negative ار ایچ منفي وینه ( 1.6) سلنه ده (19:م2963)

د ترکیې په نفوس کې د A ګروپ وینه تر ټولو په لوړه کچه 43.8 سلنه موجوده ،B ګروپ وینه ( 16.2)سلنه ،O ګروپ وینه ( 30.8 )سلنه ،AB ګروپ وینه ( 9.2 )سلنه ، Rh Positive ار ایچ مثبت وینه ( 86 )سلنه او Rh Negative ار ایچ منفي وینه ( 14 )سلنه ده (18:م231) .

د Uyo Nigeria ثبت له مخې د O ګروپ وینه تر ټولو زیاته اندازه ( 56 )سلنه موجوده ده چې په دوهمه زیاته کچه د A ګروپ وینه (25.07) سلنه ،د B ګروپ وینه ( 16.4) سلنه ، AB ګروپ وینه ( 2.45) سلنه ، Rh Positive ار ایچ مثبت ( 96,7) سلنه په داسې حال کې چې Rh Negative ار ایچ منفي ( 3,30 )سلنه موجوده ده (8:م18-20) .

د Ladoke akintola پوهنتون Ogbomosho دمحصلینو تر منځ دوینې ګروپونه A,B,AB,O په ترتیب سره په لاندې ډول قرار لري چې( 21.30, 22.73 ,2.85 and 53.12) ارقام په سلنو ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي چې په دې کې ( 93.32 ) سلنه Rh Positive ار ایچ مثبت او ( 6.86 ) سلنه یې Rh Negative ار ایچ منفي دي (5:م73–76)

د North west region of Nigeria (Kaduna) څېړنه ښايي چې د A گروپ وينه ( 21.3 ) سلنه ،د B گروپ وينه (24.3) سلنه ، AB گروپ وينه (5.2) سلنه، د O گروپ وينه (49.2 ) سلنه موجوده ده (12:م17–18) .

په داسې حال کې چې د Nasarawa state University پوهنتون دمحصلينو تر منځ دوينې دگروپونو ( 45) سلنه د O گروپ تشکېلوي ،A گروپ وينه ( 25.5) سلنه ،B گروپ وينه ( 25 ) سلنه ، AB گروپ وينه ( 3.5 ) سلنه ، (94 ) سلنه Rh Positive ار ايچ مثبت او ( 6 ) سلنه يې Rh Negative ار ايچ منفي ده او همدارنگه په (Benin,Nigerdelta region,Nigeria) کې د (160431 ) کسانو تر منځ دوينې دگروپونو فينوټايپ په لاندې ډول لاسته راغلي دي،چې A,B,AB and O دوينې گروپونه په ترتيب سره ( 23.72 , 20.09 , 2.97 and 53.22 ) په سلنه اټکل شوي دي (9:م15)

بنگله ديش دچېټاگونگ ايالت دعاموخلکو تر منځ په نارينه وو کې دوينې گروپونه دهندوستان دعمومي څېړنې سره يو شان (B>O>A>AB) نتېجه اخيستل شوې خو ولې په ښځېنه وو کې بيا له نارينه وو سره توپير لري چې په ياد ايالت کې دښځېنه وو دوينې دگروپونو فورمول په دې ډول دی (O>A>B>AB) چې دا فورمول ښايي چې دښځېنه وو او نارېنه وو دوينې دگروپونو ترمنځ په ياد ايالت کې توپير شته دی او په ټوله کې بيا ( 90.72 ) سلنه Rh Positive ار ايچ مثبت او ( 9.28 ) سلنه Rh Negative ارايچ منفي ښودل شوي دي (20:م308–309) .

له يوه نفوس څخه بل نفوس ته وخت په وخت په يوه ساحه کې په محلي او ساحوي سطحه باندې د ABO او Rh له مخې دوينې دگروپونو آندازه معلومول ،دوينې دبانک په مديريت باندې، او همدارنگه دوينې دانتقال په خدماتو کې مهمه ونډه لري . د Rh فکتور معلومول ډير مهم دي تر څو د Erythroblastosis fetalis مخنېوی وکړي کوم چې په عام ډول هغه وخت رامنځته کيږي کله چې Rh Negative وينې لرونکي مور يو Rh Positive ماشوم ولري (11:م9) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Erythroblastosis Fetalis

د جنين (Fetus) او نوي زېږېدلي ماشومانو ناروغي ده چې په دې حالت کې په تدريجي ډول سره وينه Agglutinated کيږي او په پای کې سره کرويات د Phagocytosis دعمليې په واسطه تخريبيږي .

په Erythroblastosis Fetalis کې مور Rh Negative او پلار يې Rh Positive وي او ماشوم په ارثي ډول دپلار څخه Rh Positive اخلي او په دې توګه کومه مور چې Rh Negative وينه لري دماشوم د Rh Positive په مقابل کې Anti Rh agglutinin په جوړيدو پيل کوي او نوموړي Anti Rh دمور څخه دماشوم وينې ته تيريږي او دماشوم دوينې د Agglutination سبب ګرځي.

نوموړي مور دلومړي ماشوم په مقابل کې Anti Rh نه جوړوي تر څو چې د Erythroblastosis Fetalis سبب شي مګر په نورو راتلونکو ماشومانو کې دنوموړي ناروغي واقعات زياتيږي.

د Rh Negative مور دلومړني ماشوم په مقابل کې په لازمه اندازه Anti Rh Agglutinin چې د Erythroblastosis Fetalis سبب وګرځي نه جوړوي مګر که چېرې ددې مور دوهم ماشوم هم Rh Positive وي نو دماشوم په Erythroblastosis Fetalis ناروغۍ داخته کېدو چانس دري سلنه دی او ددريم ماشوم ( 10 ) سلنه په نوموړي ناروغي داخته کېدو چانس لري ،چې دناروغي درامنځته کېدو چانس په وروستيو ماشومانو کې لا پسې زياتيږي (3:م 104-106) .

او د Erythroblastosis Fetalis دواقع کېدو چانس په هرو ( 250 ) زېږونونو کې يودی چې دري سلنه د نويو زېږېدلو ماشومانو دمرګ لامل کيږي (6:م 117) .

## دوينې دګروپونو او شخصيت ترمنځ اړيکې

دشخصيت او وينې دګروپونو اړوند ډيري مطالعې سرته رسيدلي دي،په دې اړوند يوه څېړنه په ( 600 ) افرادو باندې سرته رسېدلې ده چې پايلې يې دا په ډاګه کوي چې په لوړه کچه د A ګروپ وينه لرونکي اشخاص او په ټيټه کچه د O

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګروپ وینه لرونکي اشخاص په رواني ناروغیو اخته کیږي (16:م 128) .

ورته تحلیل په دي ورروستیو کي په ایران کي سرته رسیدلی دی چي دويني دګروپونو او شخصیت ترمنځ داړیکي په ډاګه کولو کي پاتي راغلي دي (7:م 55) .

یوه بله څیړنه داپه ډاګه کوي ،هغه ناروغان چي په Hysteria باندي اخته دي زیاتره دويني ګروپ يي د A فینو ټایپ لرونکي دي (17:م 1106-1107) .

دويني دګروپونو اوراوني روغتیاتر منځ اړیکي په یوه څیړنه کي پلټل شوي دي، داپه ډاګه کوي چي د ABO دويني ګروپونه دشيزوفيرنيا (Schizophrenia) او مختلف ډولونو دفشارونو سره اړیکي لري او زیاته کړي ده چي د O ګروپ وینه دخفګان او ارتقاعي خفګان سره تينګه اړیکه لري (14:م 552) .

لدي امله کيدائ شي د ABO ګروپونه دانسان په ځانګړتياوو او عادتونو باندي اغيزه وکړي . Hobgood دويني دګروپونو او شخصیت د ځانګړتياوو تر منځ ممکنه اړیکه وڅیړله (13:م75) .

## دويني دګروپونو معلوملو میتودونه

- Slide method
- Tube test method
- Microplate Technology
- Column/Gel Centrifugation

داړتیا وړ مواد:

دويني دګروپونو دمعلوملو لپاره د Slid Method څخه استفاده شوي ده چي په یاد میتود کي داړتیا وړ مواد په لاندي ډول سره ذکر شوي دي .

1-ABD انتي سيرا Antisera.(ABD)

(c) ketabton.com: The Digital Library

2-ویـنـه

Blood

3-سلایـد

Slide

4-ستـنـه

Lancet

5-الـکـهـول

Alcohol

6-مــالــوچ

Cotton

7-تــورنـېکـویــټ

Tourniquet

8-داوبـو بـوتـل — Water bottle

9-دثـبـت کـتــاب او قـلــم — Register book and Pen

10-مـارکـر — Marker

## کـړنـلاره

## دنمـونـي اخیـستـنـه

الـف:دویـنـي اخیـستـلو ځـخه وړانـدي بـایـد دنـاروغ شخصیت پـه ډېـري زیـرکـتـیـا سره معـلـوم کـړائ شي تـر څــو د هـ غـه دشخصــیـت اړونـد مـکـالـمـه ورسره تـر ســره شـــي او بـایـــد دپـېژنـــدګـلوی دپـانـي سره یـي مـعـلـومـات ورتـه اوسي تـر څو دغلــط کــس ځـخـه ویـنـه وانـه اخیـستل شي .

ب:بـیـا بـایـد نـاروغ پـه چـوکـی بـانـــدي پـــه ارام ډول ســره کـېښنـول شي او کـه چېـري دکـېښنـاستـلو وړتـیـــایـي نــه درلـودلــه بـایـد پـه بـستـر څمـلـول شي او دا ورتـه وویـــل شـــي چـــي دویـنـــي اخیـستـل بـه ستـاسي دلـړي نـاارامـتـیـا لامـل شـــي ،هیـڅکـلـه بـایـــد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغ ته داونه ويل شي چې دوينې اخيستل يو بې درده كړنلاره ده ځكه هېڅكله هم داسي نه ده ،په كومه چوكۍ كې چې ناروغ كېښنول كېږي بايد دوا ړه اړخونو ته دبازوګانو لرونكي وي ترڅو يو ناارامه يا بې سده كېدونكى ناروغ ترې راونه لويږي ځكه داسي ډېرى پېښې لېدل شوي دي چې ناروغ دوينې اخېستلو پرمهال دچوكۍ څخه په كلك سېمنتي فرش باندې راغورځېدلى او دكوپړى ترضيض ورته پيدا شوى دى .

كه چېرې هغه شخص چې وينه ترې اخيستل كيږي ماشوم وي نو بايد ديو همكار په واسطه يې لاس په كلك ډول بې حركته ونيول شي .

له ناروغ څخه وينه په دوه ډوله اخېستلائ شو:

1:محيطي وينه اخېستل .

2:دشعريه عروقو څخه وينه اخېستل .

## 1: دمحيطي يا وريدي وينې اخيستل

ديو كاهل شخص څخه محيطي وينه په ډېرې اسانى سره د Anti Cubital Fossa څخه اخيستل كيږي،ددې ډول وينې اخېستلو لپاره يواځې ديوې ماتې شوې ستنې يا يو پلاستيكي سېرنج اويا ديوې ستنې او كش كونكي تيوب څخه ګټه اخېستلائ شو .دپورتنى حفرې يا ژوروالي دوريدونو څخه منځنى كيوبايټل وريد تر ټولو غوره دى ځكه دټولو وريدونوڅخه غټ دى او دانساجو په واسطه محكم نيول شوى دى چې دوينې اخېستلو په وخت كې دحركت څخه مخنيوى كوي او په اسانى سره ترې وينه اخېستل كيږي.

په دوهمه درجه كې دسيفاليك او بازاليك وريد څخه وينه اخېستل كيږي پټه دې پاتې نه وي چې دڅنګلې دوريدونو څخه هم استفاده كولائ شو،مګر داچې ديادې ساحې رګونه ډېر خوځنده دي او دستنې په داخلولو كې ستونزې رامنځته كوي بايد داوليت حق ورنه كړل شي .

كوم وريدونه چې دمړوند اولاس په ظهري برخه كې قرار لري دوينې دكمزوري جريان لرونكي دي او كه چېرې ترې وينه واخېستل شي د Bruising رامنځته كېدلو ته لاره هواروي .داهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ښکاره حقيقت دی چې دمړونــد دقـــدامي بـرخــي څخــه ويـنــه اخيستل ډيـره دردنـاکـه تـمـاميږي .

کـلـه مـو چې ديـو وريـد څخـــه دويـنـــې اخيســتلو اراده وکړه نـو لـومړی هغه جس کړئ تـر څو مطمئن شي چې وريـد بـــارز او يـقـيـنـي دی،کـه چيري تـيـاره شتـون ولـري ،نـاروغ تـور پـوســتی وي او يـا نـاروغ ډيـر چاغ وي نـو بـيـا هم دوريـد جس کـول گـټـور بـريـښي تـر څـووريـد ښه وپـيژنـدل شي .

کـه چيري وريـدونـه ډيـر کـوچـنـي وي نـــو دمـــټ گـرمـــول درگـونـو دتـوسع پـه رامـنځتـه کـولـو کې ډيـــره مر سـتـه کـــوي ددې هدف د سرتـه رسولـو لـپـاره دنـاروغ څخـه غوښتل کـيــږي چــې څـــو ځلې خپلـه پـنجه خلاصه او بـنـده کـــړي تـــر څـــو درگـونـــو تـوسـع رامـنځتـه شي،داخبـره هم بـايـد دذهن څخه ونـه ايـســتل شــي چـــې انـتـخـاب شوی وريـد بـايـد دلـږ وخت لـپـاره آرام پـريـږدی تـر څـــو هغې بـانـدې وارد شوی فـشار کم او تـحرکـيت يـې لـه مـنځه لاړ شي .

دنـاروغ پـوستکی د( 70 )سلـنـه ايـتـــانـولـو اويـــا( 0.5 )سلـنـه کـلـورهيگزيـډيـن پـه واسطه ښه پـاک کړئ اوانـتـظار وبـاسئ تـر څو وچ شي ،تـورنـيـکـويـټ دمټ دپـاسه ښه کـلـک وتــړئ تــر څـــو وريـدونـه تـوسع وکړي مگر دومره بـايـــد کـلـــک هــم نـــه وي چـــې دنـاروغ دنـاراحتی او درد لامل وگرځي ،درگـونـو دتـوسع لـپـــاره دفشار دآلـې کـــف هـــم کـــارول کـيـــږي پـــه دې طريـقـــه کـــې تـــر ډيـاسټولـيک فـشار پـورې بـايـد پمپ ورکړل شي،مگر دتـورنـيـکـويـټ طريـقـه سـاده او زر اجرا کيدونـکـي ده .

تــورنـيـکـويـټ تـرهغه وخت پـورې وتـړی تـر څو وريـــد تـــه ستـنـه داخلـه شي ،کـه چيري ممکنـه وي بـايـد تـورنـيـکـويـــټ ديـــوې دقـيـقـې څخه زيـات وخت لـپـاره ونـه تـړل شي ځکه دويـنـــې جريـــان مختل کـيـږي او شايـد پـه ويـنـه کې څه نقصان رامنځتـه شي ،کـه چيري تـورنـيـکـويـټ دلسو دقـيـقـو څخه زيـات وخت لـپـاره وتـړل شـــي نـو دويـنـې دغليظ کيدلـوسبب کـيـږي چې پـايـلـه کې دهيموگلـــوبـيـن دغلظت زيـاتـوالـی او دسروکرويـاتـو دشمير ډيـروالـــی رامـنځتـــه کيږي ،داخبـره پـه درې سلـنـه خلکوکې چې تـورنـيـکـويـټ يې دلســو دقـيـقـو څخه دزيـات وخت لـپـاره تـړلـی وه پـه تـجربـه ثـابـتـه شــوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکاهلانو لپاره ( 19-20 )ګیچ لرونکي ستني او دکوچنیانو اوهغه کاهلانو لپاره چې واړه وریدونه ولري د ( 21-23) ګیچ لرونکي ستنې پواسطه وینه اخېستل کیږي.

ستنه دسېرنج سره کلکه ونښلوئ او ورید ته یې په مایل ډول داخله کړئ چې داکار ممکن په یوځلي حرکت سره او یا په دوو بیلابیلو حرکتونو سره تر سره شي ،کله چې ستنه ورید ته داخله شوه باید دسېرنج فستون په تېزئ سره راکش نه کړائ شي ،ځکه دوینې دلایز کېدو، ناروغ دناارامۍ او حتی د تیزئ دشاک درامنځته کېدو باعث کیږي .سېرنج ته ممکن وینه دکم مقدار منفي فشار په اساس په خپله ورو ورو داخله شي ،دناروغ څخه معمولا( 3-5 )سي سي پورې وینه واخلئ کله مو چې وینه واخېستله نو لومړی تورنیکویټ خلاص کړئ بیا په وخذه شوي ځائ باندې معقمه وچه ګازپټۍ یا مالوچ کېږدئ او پرته دفشار ورکولونه ستنه له ورید څخه راوباسی ،مټ باید په مستقیم ډول او که ممکنه وي لږ پورته دې ونیول شي .نښلیدونکی پلستر څخه باید استفاده ونشي ځکه دا دزیات وخت لپاره دفشار درامنځته کېدو لامل کیږي او دوینې توقف رامنځته کوي .

کله چې وینه په مربوطه ټیوب کې اچوئ نو لومړی دسېرنج څخه ستنه وباسئ تر څو مو له یوطرف نه وینه لایز نه شي او له بل طرفه ځان دستنې پواسطه زخمي نه کړئ .تر څو دممکنه خطراتو درامنځته کېدو په ځانګړي ډول هیپاټایټس بي او سي څخه مو ځان ژغورلی وي ځکه نوموړي وایروسونه د همدې لارې زیات انتقالیږي ،دایډز انتقال دستنې له لارې نسبت هېپاټایټس بي ته کم دی.

کله چې مو ستنه دسېرنج څخه لرې کړه نووینه په مربوطه انټي کواګولانټ لرونکي ټیوب کې واچوئ ،وینه باید په تیزئ سره په ټیوب کې وانه اچول شي ځکه دوینې دلایز سبب کیږي .وینه دانټی کواګولانټ موادو سره دځلور یا پنځه ځلې دور ورکولو پواسطه ښه مخلوط کړئ ،دټیوب دخوځولو څخه باید ډډه وشي .

تر ټولو غوره انټي کواګولانټ لرونکي مواد د EDTA مالګه ده چې Sequestrene په نوم شهرت لري ،په امریکا کې وچ $k_2$EDTA استعمالیږي او غوره انټي کواګولانټ ګڼل کیږي ،غلظت یې ( 1.5) ملی ګرام پر ډیسي لیټر دی ،په داسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې چې په شمالي امریکا کې مایع K$_3$EDTA په پورتني غلظت سره استعمالیږي .

Na$_2$EDTA هم کارولی شو مګر دپوټاشیم مالګو په پرتله لږه حلېدونکې ده ،په ټیوب کې دویني اچولو څخه وروسته باید په ټیوب باندې دناروغ نوم ،نمبر اومربوطه معلومات ولیکل شي حتی دویني اخېستلوپر وخت، چې کله وینه اخېستل شوې وي یا لابراتوار ته راوړل شوې ده ،داکار دلابراتوار دنتیجې او ډاکټر دواړو لپاره اړین دی ،ځکه ددواړو تر منځ هم اهنګي رامنځته کوي .

کله چې وینه په یو ایکویټډ ټیوب کې اخیستل کیږي نو ددې ډول ویني اخېستلو طریقه عینا دسېرنج دطریقې په شان ده یوائې په دومره توپیر سره چې دې کې دوه نهایته لرونکې ستنه کارول کېږي چې یو نهایت یې په رګ کې داخلیږي او بل سر یې په ټیوب کې داخلیږي ،کله چې ټیوب ستنې ته داخلیږي نو دستني ربړي پوښ دستني په واسطه ټېله کېږي او ستنې ته اجازه ورکوي چې ټیوب ته داخله شي په ټیوب کې موجوده خلا له منځه ځي او وینه په اسانی سره ټیوب ته داخلیږي.

که چېرې رګونه ډیر کوچني وي نو دمناسب واکیوم ټیوب څخه باید استفاده وشي ،ایواکویټید ټیوب په واسطه دویني څو نمونې په یو وخت کې په ډیرې اسانی سره اخیستلائ شو ځکه په اسانی سره یو ټیوب لرې کیږي او بل پکې داخلیږي .

## 2: دکپیلري یا شعریه عروقو څخه دویني اخېستل

په نوو زېږېدلوماشومانو کې داشوني ده چې دوریدي ویني په عوض دجلد دوخذې په مرسته دشعریه عروقو څخه وینه واخلو همدارنګه هغه کاهلان چې واړه او ضعیفه وریدونه ولري دهغوی وینه هم ددې میتودپه واسطه اخېستل کیږي .

په دې طریقې سره محدوده وینه دمحدودو معایناتو سرته رسولو لپاره اخېستل کیږي ،کپیلري ویني ته بهتره به دا وي چې د شریانچو وینه وویل شي .

داډول وینه کولائ شو په ډیرې اسانی سره دلنسټ پواسطه دلاس دګوتو دظهري یا پوندې دپلنتر برخې څخه واخلو .دپښې تله یا دګوتې ظهري برخه دانتي سپټیک موادو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واسطه ښه پاکه کړی ،دپوندي څخه په هغه ماشومانو کې وینه اخېستل کیږي چې عمر یې ددرې میاشتو څخه کم وي اویا یوکلن اوسي .

په ماشومانو کې دغټې ګوتې دپلنټر برخې ،دلاس دغټې ګوتې او یا دغوږ دنرمۍ څخه کپیلري وینه اخېستلای شو .په ماشومانو کې دپوندې وحشي او یاخلفي برخې څخه وینه باید وانه خېستل شي ځکه ددې ځائ مربوطه هډوکی پوستکي سره ډیر نژدې واقع شوی دی نسبت پلنټر برخې ته اوددې امکان شته چې دوخذي په واسطه هډوکې زخمي شي .

په زړو خلکوکې دلاس دپنځمې ګوتې او یا غټې ګوتې ته دغوږ دنرمۍ په پرتله دلومړیتوب حق ورکول کیږي ممکن دغوږ دنرمۍ څخه دوینې اخېستل ددوامداره خونریزۍ سبب شي په ځانګړي ډول هغه ناروغانو کې چې دعلقې دفکتورونو ګډوډي ولري ،او دابیاستونزمنه ده چې دې ځائ ته فشار ورکړو او وینه یې ودروو.

دوینې اخېستنې لپاره ښه ځائ دګوتې دډیسټل فلنګسز پالمر برخه ده ځکه چې په دې برخه کې مربوطه هډوکی پوستکي سره نژدې نه دی واقع شوی .

دجلد وخذه باید ( 1.5 )ملي متر څخه ژور وشي تر څو لنسټ دپوستکي سب کوټانیوس جنکشن څخه تیر شي چېرته چې دوینې رګونه په زیات شمېر سره شتون لري ،او وینه تري په ازادانه ډول سره بهېدلای شي ،په ماشومانو کې کله چې دپوندې څخه وخذه کیږي باید لنسټ د (2.4 )ملي متر څخه ژور داخل نشي ځکه چې دلته دکالکانوس هډوکی چې دپوستکي لاندې نژدې واقع شوی دی ممکن دسهوې وخذې په واسطه زخمي اواسټیومایلایټس ته زمینه برابره کړي .

کپیلري وینه باید دګرمو برخو څخه واخېستل شي ځکه ددې برخو څخه وینه په اسانۍ سره بهېدلای شي که چېرې نوموړې برخه یخه وي نوباید مرطوبو کالیو په واسطه چې (42 )سانتي ګرید څخه تودوخه لوړه نه وي باید ساحه ګرمه کړل شي بیا باید پوستکی د( 70 )سلنه ایزوپروپانول په واسطه پاک او په معقم ګاز وچ شي ځکه دالکولو ډیر کم مقدار دنمونې دلایزس سبب کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوینې لومړنی قطره چې دنسجي مایع په واسطه رقیقه شوې وي باید دمعقم ګاز پواسطه وچه اولرې کړل شي ،دآرام فشار ورکولو په واسطه دوینې جریان کولای شو تیز کړو ،مګر دپمپ ورکولو یا مساژ په واسطه دوینې دجریان تېزوالی ددې باعث کیږي چې نسجي مایع دوینې سره مخلوطه شي او پایله یې غلطه شي.

کپیلري وینه کولای شو چې په پېپټونو اویا شیشه یې کپیلري تیوبونو کې جمع واري کړو کپیلري تیوبونه چې EDTA ولري هم استعمالولای شو .

## کارډیا دنوم څخه وینه اخېستل

دتولد څخه وروسته په چټکۍ سره کولای شو چې دوینې سمپل دامبېلیکل کارډ دوریدونو څخه واخلو ،حبل السروي کې یو ورید چې اکسیجن لرونکې وینه لري او دوه شریانونه چې غیر اکسېجن لرونکې وینه لري شتون لري .داډول وینه دکارډدرګونو څخه دسېرنج او یاستنې په مرسته اخېستل کیږي ،دکارډ دغوځ شوي نهایت څخه که چېرې وینه واخېستل شي ممکن وینه دوار ټونز جیلي سره مخلوطه شي او دسروکرویاتو داګلوټینیشن سبب شي ،هغه نتایج چې لابراتوار کې دکارډ دوینې څخه اخېستل شوي دي هیڅکله دکپیلري اویا وریدي سمپل دنتایجو سره په نوو زېږېدلو ماشومانوکې ورته نه دي.

## دبدن دنورو برخو څخه دوینې اخېستل :

په خینې وختونو کې ضرورت پېښیږي چې دانکل (بجلکی)وریدونه،فیمورل(فخذي)وریدونو او نورو مختلفو ساحو داندویلنګ کنولي په واسطه دوینې سمپل واخلو ،که چېرې دکنولا څخه وینه اخېستل کیږي نواولنی سمپل ممکن چې دانفیورن مایع په واسطه رقیق شوی وي او یا دهېپارین په واسطه ملوث شوی وي باید لرې کړای شي ،په ماشومانو کې کولائ شو دکوپړی دوریدونو اوجګولر وریدونو څخه هم وینه واخلو (2:م26-38) .

## لابراتواري پلټنه

له وینې اخیستلو څخه وروسته که پورته ذکر شوی هر میتود وي په دري مختلفو سلایډونو باندې یو یو څاڅکی وینه اچوو چې په یادو سلایډونو له مخکې نه A,B,D حروف په جلا جلا سلایډ لیکل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له دې هغه سلایډ چې د A حرف پرې لیکل شوی دA انټي سیرا یو څاڅکی او هغه سلایډ چې B پرې لیکل شوی دB انټي سیرا یوڅاڅکی او هغه سلایډچې دD حرف پرې لیکل شوې د D انټي سیرا یو څاڅکې په وینه باندې اچوو .

کیدلای شي چې ټوله عملیه په یو سلایډ او په یوه پاکه سپینه کاشي باندې سرته ورسوو یاده انټي سیرا د زیړ ټیپ په واسطه ورو ورو دانټي سیرا او وینې دګډولو په خاطر سره ګډوو او هڅه کوو چې دداېرې په شکل ګرد تاو شوی ساختمان جوړ کړي .وروسته مثلاًٌٌٌٌ له کاشي څخه مو استفاده کړې ده دلاس په واسطه دساعت دعقربې په شان درې دقیقو پورې کاشي یا سلایډ ته حرکت ورکوو تر څووینه او انټي سیرا سره په مکمل ډول حل شي .

وروسته نتیجه په لاندې ډول اخلو چې کوم دوینې ګروپ مونږ ته په لاس راځي .

که چېرته یواځې دA په ساحه کې Agglutinationرامنځته شي نویاد شخص دوینې ګروپ(A- Rh negative) منفي دی .

که چېرته یواځې دB په ساحه کېAgglutinationرامنځته شي نو دیاد شخص دوینې ګروپ (B- Rh negative )منفـي دی.

که چېرته د A او B په ساحه کېAgglutination رامنځته شي نو بیا دیاد شخص دوینې ګروپ (AB- Rh negative ) دی.

او که چېرته Agglutination په درې واړو ساحو کې ونه لیدل شي نو بیا دوینې ګروپ (O- Rh negative ) دی .


که چېرته د Aاو D په برخو کېAgglutination ولیدل شي نو بیا دوینې ګروپ A –Rh positiveدی او که B اوD په ساحاتو کېAgglutination ولیدل شي نو بیا دوینې ګروپ B-Rh positive دی او که چېرې په درې واړه ساحاتو کېAgglutination ولیدل شي نو بیا دوینې ګروپ AB-Rh positive دی او که چېرته یوازې دDپه ساحه کې Agglutinationولیدل شي نو بیا دوینې ګروپ O- Rh positive دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسنی وخت کې د یوبل ډول انتي سیرا څخه هم استفاده کیږي ما هم وغوښتل تر څو ددې اړوند لږ معلومات له لوستونکو سره شریک کړم که څه هم دا ډول انتي سیرا تـه ما هم دڅیړنې په دوران کې لاسرسی پیدا نه کړ .

کله چې له یادو موادو څخه استفاده کوو نو باید له څلورم سلایډ څخه کاروالخلو که چېرې دسلایډ په میتود باندې دوینې ګروپ معلوموو اویا هم په کاشي باندې وینه څلور ځاځکي اچوو چې عملیه نوره دپخوا په څېر ده خو یوازې یو ډول انتي سیرا دکنټرول انتي سیرا په نوم یادیږي چې په دې کې دAاوBدواړه انتي بادی موجودی دي ددې په واسطه دسهوه کېدلو مخنیوی کیږي او همدارنګه که چېرته دAاوBانتي سیرا څخه یوه هم خرابه شوې وي نو مونږ ته دکنټرول انتي سیرا دا راپه ګوته کوي چې یاد ډول لاندې په انځور کې په ښه ډول مشخص کیږي .

چې همدغه متن په لاندې انځور کې خلاصه کوو .





(1) آنځور : ( www.google.com,bloodtyping.images )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موندنې

یاده څېړنه دخوګیانو ولسوالی په مرکزي کلېنیک کې د ( 581 ) افرادو دويني دګروپونو په معلوموسرته رسېدلې ده چې په یاد ارقامو کې( 202) نفره نارینه او ( 379 ) نفره ښځېنه وو دويني ګروپونه معلوم شوي دي چې په مجموعي ډول په نارینه او ښځېنه دواړو کې د O ګروپ وینه لرونکي افرادو ارقام په لوړه کچه کې قرار لري، په دوهمه کچه کې د B ګروپ وینه لرونکي افراد قرار لري،په دریمه کچه کې بیا د A ګروپ وینه لرونکي افراد په ډیره کچه پیداکیږي، اوپه څلورم مقام کې بیا د AB ګروپ وینه لرونکي افراد قرار لري چې ارقام او سلنه یې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

(۱)جدول :په عمومي ډول په خوګیانو ولسوالی کې دويني دګروپونو آرقام او سلنه شایې.





اوس هغه توپیرونه چې دنارینه او ښځینه وو دويني دګروپونو دارقامو او سلني ترمنځ موجود دي په ډاګه کوو چې په نارینه وو کې په لومړی کچه کې د B ګروپ وینه او په ښځېنه وو کې بیا د B ګروپ وینه په دوهمه کچه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آرقامو له مخې قرار لري، همدارنګه بيا په ښځينه وو کې د O ګروپ وينه په لومړی مقام کې قرار لري چې په نارينه وو کې بيا همدا ګروپ په دوهم مقام کې قرار لري، او په نارينه او ښځينه دواړو کې د A ګروپ وينه په دريمه کچه او د AB ګروپ وينه بيا په څلورمه کچه کې قرار لري، په داسې حال کې چې Rh positive او Rh negative په دواړو نارينه وو او ښځينه وو کې په يو شان دي يعنې په دواړو کې په لومړی مقام کې Rh positive او په دوهم مقام کې Rh negative قرار لري.

(۲)جدول: دا جدول په خوګيانو ولسوالی کې دنارينه او ښځينه دوينې ګروپونه او سلنه يې ښايي.





| | A | B | 0 | AB | RhD(+) | RhD(-) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| MALE | 56 | 66 | 60 | 20 | 180 | 22 |
| Male percentage | 27.72277228 | 32.67326733 | 29.7029703 | 9.900990099 | 89.10891089 | 10.89108911 |
| FEMALE | 105 | 112 | 128 | 34 | 344 | 35 |
| Female percentage | 27.70448549 | 29.55145119 | 33.77308707 | 8.970976253 | 90.7651715 | 9.234828496 |

اوس په خوګيانو ولسوالی کې دنارينه وو دوينې ګروپونه په ځانګړې يعنې ځانته دول ځيرو چې لاندې جدول کې ټول جزيات په ترتيب سره لېکل شوي دي چې په ياد جدول کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ( 202 ) افرادو نارینه وو دوینې ګروپونه څېړل شوي دي چې ارقام يې په سلنه او شمارو ليکل شوي دي چې دجدول په تعقيبولو سره به په دي وتوانيږو چې دکوم ګروپ وينه په زياته اندازه په نارينه وو کې موجوده ده او دکوم ګروپ وينه په کمه اندازه موجوده ده خو په عمومي ډول بايد دومره ووايم چې په نارينه ووکې اراېچ مثبت وينه نسبت اراېچ منفي وينې ته په ډيره لوړه کچه پيداکيږي.

(3) جدول: داجدول په خوګيانو ولسوالی کې نارينه وو دويني ګروپونه څيري.





| | Rh(Positive) | Rh Positive Percentage | Rh(Negative) | Rh Negative Percentage | TOTAL VALUE | TOTAL PERCENTAGE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| A | 49 | 24.25742574 | 7 | 3.465346535 | 56 | 27.72277228 |
| B | 61 | 30.1980198 | 5 | 2.475247525 | 66 | 32.67326733 |
| AB | 17 | 8.415841584 | 3 | 1.485148515 | 20 | 9.900990099 |
| O | 53 | 26.23762376 | 7 | 3.465346535 | 60 | 29.7029703 |

په ښځينه وو کې بيا دويني ګروپونه چې ټول ( 379 ) افرادو دويني ګروپونه څېړل شوي دي چې په لاندې ګراف او جدول کې ددوی دهر ويني ګروپ لاسته راغلي ارقام او سلنه ذکر شوي ده هيره دي نه وي چې دښځينه وو تعداد په دي څېړنه کې ځکه زيات دی چې دااميد واره مېرمنو دويني ګروپونه دمربوط ډاکتر له لوري توسيع کېده تر څو معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چې دماشوم ژوند خو په ګواښ کې نه دي، داپه دي معنا چې تر څو معلوم کړي چې هسې نه مور ارایچ منفي او پلار ارایچ مثبت وي چې ماشوم ګروپ ارایچ مثبت راځي او مور دهغه په وړاندي انتي بادي جوړوي او ماشوم په هیمولایتیک انیمیا او یانورو ناروغیو باندي اخته کیږي تر څو ددې ستونزو مخه ونیسي .

(4)جدول: دا جدول په ښځینه وو کې دویني ګروپونه په خوګیانو ولسوالي کي ښايي.




| | Rh(Positive) | Rh Positive Percentage | Rh(Negative) | Rh Negative Percentage | TOTAL BG | TOTAL PERCENTAGE |
|---|---|---|---|---|---|---|
| A | 93 | 24.53825858 | 12 | 3.166226913 | 105 | 27.70448549 |
| B | 104 | 27.44063325 | 8 | 2.110817942 | 112 | 29.55145119 |
| AB | 32 | 8.443271768 | 2 | 0.527704485 | 34 | 8.970976253 |
| O | 115 | 30.34300792 | 13 | 3.430079156 | 128 | 33.77308707 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تحلیل

یاده څېړنه داپه ډاګه کوي چې په نارینه وو کې په لومړۍ درجه د B ګروپ په ( 32.67 ) سلنه قرار لري چې په ښځېنه وو کې بیا د O په ( 33.77 ) سلنه په لومړۍ کچه کې قرار لري چې په نارینه وو کې بیا په ترتیب سره AB,A,O دوینې ګروپونه قرار لري چې په ښځېنه وو کې بیا په ترتیب سره AB,A,B قرار لري .چې دنارینه وو لاسته راغلې نتیجه بیا د بنګله دیش دچېتاګونګ ایالت دنارینه دوینې دګروپونو سره او همدارنګه دهندوستان د پخوانۍ څیړنې سره سمون لري .


دیادولو وړ ده چې داراېچ مثبت وینه په لوړه کچه په ټولو ( 581 )نفرو کې ( 524 ) چې ( 90.8) سلنه دي چې اراېچ منفي بیا ( 581 )نفرو کې ( 57 ) چې ( 9.81 ) سلنه کیږي .

## پایله

دوینې دګروپونو معلومول په یوه ټاکلي سېمه کې دجغرافیه یي موقعیت له نظره ،دیو ښه مدیریت سره مرسته کوي،دوینې دانتقال لپاره دوینې دګروپونو معلومول ډېر مهم دي چې دغه پوهه دوینې دبانک سره ډېره مرسته کوي دوینې دانتقال په خدماتو کې .او همدارنګه دوینې دګروپ اړوند پوهه دهر فرد لپاره ضروري ده تر څو خپل دوینې ګروپ ورته معلوم وي چې په اړین وخت کې په فوري ډول دوینې په انتقال کې مرسته کوي ،چې دټولې سېمه یېزې څیړنې غورچاڼ جدول په لاندې ډول موجود دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(5)جدول:دا جدول په عمومي ډول دويني ګروپونه په خوګيانو ولسوالى کې په ډاګه کوي .




| | A(Rh+) | A(Rh-) | TOTAL | B(Rh+) | B(Rh-) | TOTAL | AB(Rh+) | AB(Rh-) | TOTAL | O(Rh+) | O(Rh-) | TOTAL |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| MALE | 49 | 7 | 56 | 61 | 5 | 66 | 17 | 13 | 30 | 53 | 7 | 60 |
| FEMALE | 93 | 12 | 105 | 104 | 8 | 112 | 32 | 2 | 34 | 115 | 13 | 128 |
| TOTAL | 142 | 19 | 161 | 165 | 13 | 178 | 49 | 15 | 64 | 168 | 20 | 188 |

## وړانديزونه

1:دعامې روغتيا وزارت بايد دويني ګروپونو معلومولو آړوند عامه پوهاوى پروګرامونه وړاندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2:دټولـنـي لـه هر فرد څخه مو هيلـه داده چـې دويـنـې ګـروپ معلـوم کـړي او دويـنـي دګـروپ کـارټ بـايـد لـه ځـانـه سـره پـه جېب کې ولـري تر څو پـه اضطراري حالـتو کـې تـري اسـتـفـاده وشي .

3:دټولـنـي لـه ځوان قشر څخه مـو آرزو داده چـې لـه واده مـخکې بـايـد ځوان او پـېغلـه خپل دويـنـې ګروپ مـعلـوم کـړي.

## اخځليکونـه


1 : صاحبزاده،فضـل احـد.(1394).طبـې لابراتـوار دټولـو لـپاره.ژبـاړن:قـيس احمـد،طيب زاده.نـنګرهـار:ګودر کـتـاب خپـرنـځی.

2:عابـد،عابـدالله.(1396).طبـې هېمـاټـولـوژي.جلال ابـاد:عنايـت خپرنـدويـه ټـولـنـه.

3:عثمـانـزی،محمدمعشوق او بـهرامـي،عين الـحق.(1380).دويـنـې او پـښتـورګـو فـزيـالـوژي .پـشاور:حمـيدي کـمـپـوزنـګ سنټـر.

4:همدرد،محمدناصـــر.(1395).دانـسـان انـاتـومـي او فـزيـالـوژي.نـنګرهار:ګودر کتاب خپـرنځی.

.5: Akhigbe R. E., Ige S. F., Adegunlola G. J., Adewumi M O., Azeez, O. M. (2011) Malaria, Haemoglobin Genotypes and ABO Blood Groups in Ogbomoso, Nigeria. Inter. J. of Trop. Med; 6 (4): 73-76

6:(Delee:Textbook of obstetrics 10th edition)

7: Dibajnia P, Moghadasin M. ABO blood groups comparing : (obsessive-compulsive disorder and depression. IJABS. (2014) 1(1 .51–55

8:Ekanem M. B. (2006) The distribution Of ABO and Rhesus blood groups in University Of Uyo Teaching Hospital )UUTH), Uyo, Nigeria. Ibom Medical Journal; 1 (1):18-20.

(c) ketabton.com: The Digital Library

9: Enosolease M. E.. and Bazuaye G. N. (2008) Distribution

of ABO and Rh-D blood groups in the Benin area of NigerDelta: Implication for regional blood transfusion. Asian J

10: Giri P. A., Yadav S., Parhar G. S., Phalke D. B. (2011)

Frequency of ABO and Rhesus Blood Groups: A Study from

a Rural Tertiary Care Teaching Hospital in India. Int J Biol

Med Res.; 2(4): 988 -990

11: Gadwalkar srikantr,et el,2013

, . 12: Hassan A., Babadoko A. A., Ahmed A. J., Isa H. A

Suleiman A. M. (2005): The pattern of distribution of ABO

blood groups in North Western Nigeria. Annals of Nigerian

Medicine; 1(2): 17-18

13: Hobgood DK.Personality traits of aggression-submissiveness

and perfectionism associate with ABO blood groups through

. catecholamine activities. Med Hypotheses. 2011; 77: 294–300

PMID: 21601990

14: Irvine DG, Miyashita H. Blood Types in Relation to

Depressions and Schizophrenia A Preliminary Report. Can Med

Assoc J. 1965; 92(11): 551–554. PMID: 14306582

15: Okroi M, McCarthy LJ. The original blood group pioneers: the

: Hirszfelds. Transfus Med Rev. 2010; 24(3):244-6. PMID

20656191

16: Rinieris P, Stefanis C, Rabavilas A. Obsessional personality

traits and ABO blood types. Neuropsychobiology. 1980; 6(3):128-31. PMID: 7374935

17: Rinieris PM, Stefanis CN, Lykouras EP, Varsou EK. Hysteria

(c) ketabton.com: The Digital Library

.and ABO blood types. Am J Psychiatry. 1978; 135(9): 1106-1107

PMID: 696938

18: Sari I., Ozer O., Davutoglu V., Gorgulu S., Eren MAksoy M. (2008): ABO blood group distribution and major

cardiovascular risk factors in patients with acute myocardial

infarction. Blood Coagul Fibrinolysis 2008; 19(3):231 -4

19: Sivananthan M., Amar P. K, Che W. I. (2013

Distribution of ABO blood group and Rhesus factor among

students in ASIA Metropolitan University, Malaysia. Int J

Biol Med Res.; 4(1): 2962-2965

20: :zaman r,m.parwez,md.jakaria and M.A.Sayeed.JPHE,7(9)305,310,2015.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**